مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۸۵** (از ۲۲ الی ۲۹ سنبله ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**


---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۳

**جنگ اعلام ناشدهٔ پاکستان**

- موقف نیروهای خارجی مستقر در افغانستان ........ ۴
- شایعهٔ یک پیمان میان امریکا و پاکستان ........ ۵
- نیروی هوایی افغانستان ........ ۵
- ناتوانی از جواب متقابل ........ ٦
- شکایت به شورای امنیت ........ ٦

## سږ کال د افغانانو لپاره ترټولو خونړی کال


- د ښکېلو لورو او ملکي وګړو تلفات ........................................................ ۷
- د بهرنيو ځواکونو عمليات ........................................................ ۸
- د افغان ځواکونو د تجهيز ژمنې ........................................................ ۹






## مقدمه

د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز د اوونيز تحليل په دې ګڼه کې، د افغانستان او پاکستان په سرحدي سيمو کې د پاکستان د حکومت پر وروستيو اقداماتو د افغان لوري غبرګون او همدا راز په دې وروستيو کې د ټول هېواد په کچه د ناامنيو د زياتېدو په تړاو د کورنيو چارو او ملي دفاع د وزيرانو د وروستيو څرګندونو په تړاو، د مرکز د اوونۍ تحليل د بورډ شننې لولئ.

* له تېرې څه مودې راهيسې د پاکستان حکومت د ډېورنډ فرضي کرښې په اوږدو کې د خندق کيندل پيل کړي، چې د افغان لوري توند غبرګون يې راپارولی دی. له دې سره هم مهاله د افغانستان په ختيځ کې په سرحدي سيمو د پاکستاني ځواکونو توغنديزو بريدونو يو ځل بيا زور اخېستی او مرګ ژوبله هم پکې اوښتې ده. افغان حکومت د پاکستان د ځينې وروستيو اقداماتو په غبرګون کې، په کابل کې د دغه هېواد د سفارت استازی احضار کړ او د وروستي ځل لپاره د ملګرو ملتونو د امنيت شورا ته له پاکستان څخه د شکايت خبره کوي. افغان حکومت له تېرو څو کلونو راهيسې د پاکستان د بريدونو او ګواښونو پر وړاندې د متقابل ځواب توان نه لري؛ د دې ناتوانی اصلي عوامل څه دي؟

* دغه راز په دې وروستيو کې د ټول هېواد په کچه د امنيت خرابوالي هم د افغانانو پام ځان ته اړولی دی. د پارلمان دواړو جرګو په پرله پسې ډول د کورنيو چارو وزير، د ملي دفاع وزير او د ملي امنيت د عمومي رياست مرستيال د دغه وضعيت په تړاو د ځواب ويلو لپاره وروغوښتل، چې تر ډېره يې په ځوابونو کې نهيلي او ناتواني له ورايه ښکارېده. دغو چارواکو سږنی کال د تېرو 13 کلونو په پرتله، د افغانانو لپاره تر ټولو خونړی کال وباله او د دولت د وسله والو مخالفينو د پراخو بريدونو خبره يې وکړه؛ د افغان ځواکونو راتلونکی وضعيت، د بهرنيو ځواکونو عمليات او مرسته او همدارنګه د ښکېلو لورو د مرګ ژوبلې اصلي عوامل، هغه موضوعات دي چې د دې اوونی په تحليل کې څېړل شوي دي.

# جنگ اعلام ناشدهٔ پاکستان




در این اواخر یک بار دیگر در کنار مسائل دیگر، بر سر حفر خندق در مرز دیورند از سوی پاکستان و ادامهٔ حملات راکتی آن کشور بر مناطق شرقی افغانستان، بگومگوها میان این دو کشور افزایش یافته است. افغانستان در برابر این اقدامات پاکستان در چه موقعیتی قرار دارد؟ و اینکه ناتوانی حکومت افغانستان از جواب متقابل، چه دلائلی دارد؟

## موقف نیروهای خارجی مستقر در افغانستان

بیش از دونیم سال قبل بود که حملات موشکی پاکستان به مناطق سرحدی شرق کشور آغاز شد. این حملات درشرایطی صورت گرفت که نیروهای خارجی در کنر حضور داشتند. فرمانده نیروهای خارجی بعد از مدت‌ها سکوت در جواب این سوال که چرا آن‌ها در برابر حملات از آن‌سوی مرز به خاک افغانستان خاموش اند، گفت که ما از وقوع چنین حملات اطلاعی نداریم.

این خاموشی نیروهای خارجی در برابر پاکستان روابط میان حامدکرزی و امریکا را بیش از پیش تیره ساخت. و دوام این حملات از آن زمان تا امروز، نیروهای مسلح افغانستان را نیز در برابر این سوال افکار عمومی در داخل کشور قرار داد که چرا آن‌ها در برابر این حملات به جواب متقابل نمی‌پردازند. این سوال جوابی ناخوش‌آیند داشت؛ نیروهای افغان فاقد سلاح‌های دوربرد برای مقابله با حملات پاکستان اند.

## شایعۀ یک پیمان میان امریکا و پاکستان

درسال 2001 زمانیکه نیروهای امریکایی به منظور سرکوب القاعده و طالبان قصد حمله به افغانستان را داشتند، دو کشور همسایۀ افغانستان یعنی پاکستان و ایران با امریکا همکاری کردند. در مورد اینکه شرایط ایران برای همکاری با امریکا علیه طالبان چه بود؟ معلومات دقیقی در دست نیست؛ اما در مورد پاکستان شایعاتی وجود دارد که این کشور برای همکاری در سرنگونی طالبان، سه شرط داشت که امریکا آن‌ها را پذیرفت:

1- نقش هندوستان در آیندۀ افغانستان باید محدود باشد.
2- روی رودخانه‌هایی که از افغانستان به پاکستان می‌ریزند، بند آبگردان ساخته نشود.
3- نیروهای مسلح افغانستان باید در حد مقابله با چالش‌های داخلی تجهیز گردند.

یک نگاه دقیق به کمک‌های جامعۀ جهانی در طول سیزده سال گذشته به افغانستان، شایعۀ این پیمان را به حقیقت نزدیک می‌سازد؛ امریکا در طول این مدت برای جلوگیری از حساسیت‌های پاکستان تلاش نمود تا روابط میان هند و افغانستان در یک فاصلۀ معین حفظ شود. حتی زمانیکه دولت افغانستان از هندوستان خواهان بدست آوردن اسلحه گردید، دهلی جدید این خواست را مؤدبانه رد کرد.

در طول سیزده سال هیچ پروژۀ زیربنایی بخصوص ساختن بندهای آبگردان روی دست گرفته نشد و نیز نیروهای مسلح افغانستان به سلاح‌های سنگین و دوربرد مجهز نگردید. به حدی که رئیس جمهور کرزی سال گذشته دستور داد تا سلاح‌های سنگین از کار افتاده در دیپوهای اردوی افغانستان بررسی گردیده و در جهت ترمیم آنها به منظور استفاده در جنگ برنامه‌ای روی دست گرفته شود.

## نیروی هوایی افغانستان

نیروی هوایی بخش جدایی ناپذیر نیروهای نظامی یک کشور است واین نکته کاملاً روشن است که نیروهای زمینی بدون پشتیبانی نیروی هوایی نمی‌تواند در جنگ بصورت مؤثر عمل نماید.

اما امریکا نه تنها در افغانستان بلکه در عراق نیز به تجهیز نیروی هوایی این کشور نپرداخت. قبل از جنگ خلیج، نیروهای مسلح عراق از نیروی هوایی بسیار قدرتمند برخوردار بودند که بخشی از آن در جریان جنگ خلیج توسط امریکا از بین برده شد و بخش دیگر هم در جریان حملۀ امریکا در سال 2003 از طرف صدام حسین برای جلوگیری از نابودی به کشورهای دیگر فرستاده شد و توسط آن کشورها ضبط گردید.

در زمان حملهٔ امریکا به افغانستان، هرچند افغانستان فاقد طیارات جنگی بود اما بیاد داریم که امریکا حملهٔ خود به افغانستان را از حمله به میدان هوایی کابل آغاز کرد که در نتیجهٔ آن تعدادی از طیارات مسافربری آریانا نابود شدند. چند هلی‌کوپتری هم که در اختیار طالبان بود و قبل از حملهٔ امریکا آنها را مخفی کرده بودند، آماج حمله قرار گرفتند و نابود شدند.

در آن زمان طالبان دستگاه راداری را در تپهٔ بی بی مهرو فعال نموده بودند اما در نخستین ساعات حمله، این دستگاه نیز آماج قرار گرفت و از بین رفت که این عمل بخشی از برنامهٔ امریکا برای آیندهٔ افغانستان بود.

در ابتدا گفته می‌شد که امریکا نیروهای مسلح افغانستان را به جدید ترین تجهیزات هوایی مجهز خواهد کرد، اما بعد از سیزده سال این مسئله مشخص شده است که امریکا چنین قصدی را نداشته است. عراق که کشوری ثروتمند تر است این توان را داشت که در این اواخر چند طیارهٔ دست دوم از روسیه خریداری نماید؛ اما امریکا فقط چند طیارهٔ کهنه و از رده خارج شدهٔ "بابری" در اختیار افغانستان نهاد که اکثر شان غیر فعال اند و چند هلی‌کوپتر نیز از روسیه خریداری نمود.

## ناتوانی از جواب متقابل

دولت افغانستان بارها تهدید نموده است که اگر حملات پاکستان به افغانستان ادامه یابد، نیروهای مسلح افغانستان به جواب متقابل خواهند پرداخت؛ اما اخیراً وزیر داخلهٔ افغانستان در جلسهٔ مشرانوجرگه حرف عجیبی زد. وی گفت که رئیس جمهور دو بار دستور حملهٔ متقابل در برابر حملات پاکستان را داد، اما این کار عملی نشد. اینکه چرا عملی نشد من جوابی برای آن ندارم!

داودزی نخواست بگوید که ما از توان لازم برای حملات متقابل در برابر پاکستان برخوردار نیستم، اما حقیقت همین است. نیروهای افغان به سلاح‌هایی که بتوانند در برابر حملهٔ خارجی از خود به دفاع بپردازند، مجهز نشده‌اند.

## شکایت به شورای امنیت

گفته می‌شود که افغانستان ناچار است تا به عنوان آخرین راه حل، به شورای امنیت سازمان ملل متحد از پاکستان شکایت نماید؛ اما به نظر نمی‌رسد که این کار افغانستان تأثیری بر وضع داشته باشد. در شرایطی که اعضای دایمی شورای امنیت سازمان ملل متحد در افغانستان، حتی حضور نظامی دارند و باوجود این علیه پاکستان حتی به اعتراض لفظی هم نمی‌پردازند، افغانستان از این شورا چه انتظاری دارد؟!

## سږ کال د افغانانو لپاره ترټولو خونړی کال



په تېرو شپږو میاشتو کې د افغان پوځیانو او ولسي وګړو د مرګ ژوبلې د لوړې کچې په تړاو، په مشرانو جرګه کې د کورنیو چارو او ملي دفاع وزیرانو له څرګندونو وروسته، د افغان جګړې د راتلونکي په اړه د خلکو اندېښنې زیاتې شوې دي.

د امنیتي ارګانونو مسؤولینو روان لمریز کال، پر افغانستان د امریکایي او ناټو ځواکونو له یرغل وروسته، په تېرو 13 کلونو کې د افغان ځواکونو لپاره ترټولو خونړی کال وباله او له څرګندونو یې داسې برېښي، چې افغان ځواکونه د روانو او راتلونکو ګواښونو پر وړاندې له پراخو ننګونو سره مخ دي.

## د ښکېلو لورو او ملکي وګړو تلفات

د کورنیو چارو وزیر عمر داوودزي د مشرانو جرګې په استجوابیه غونډه کې وویل، چې سږنی کال د افغان ځواکونو لپاره ترټولو خونړی کال و. د ده په وینا، د روان کال په تېرو شپږو میاشتو کې 2212 تنه ملي او سیمه ییز پولیس وژل شوي او یوازې له ملي پولیسو 2506 تنه ټپیان شوي، چې په دې توګه د افغان ځواکونو د مرګ ژوبلې کچه د پوره کال په محاسبه خورا لوړه ده.

د افغان سرتېرو د مرګ ژوبلې لوړې کچې ته د شهید اوونی په نمانځغونډه کې، ولسمشر کرزي هم اشاره وکړه او ویې ویل، چې هره ورځ د امنیتي راپورونو له مخې کابو 50 افغانان وژل کېږي. همدا راز د ملي دفاع وزارت یوه جګپوړي چارواکي هم الماني خبري اژانس ته د دغې کچې د لوړېدو خبره کړې او ویلي یې دي، چې هره اوونی 100 تنه افغان سرتېري د جګړې په ډګر کې وژل کېږي.

د وزیر په وینا، په دې کال کې د دولت د وسله والو مخالفینو له ډلې څخه، 5503 تنه وسله وال جنګیالي وژل شوي او 2370 تنه نور ژوبل شوي دي.

خو د دولت د وسله والو مخالفینو د مرګ ژوبلې کره شمېرې، نه هم پخوا اعلان شوې او نه یې په اړه کره معلومات شته دي؛ مګر امنیتي چارواکي په دې توګه غواړي چې د افغان ځواکونو د مرګ ژوبلې لوړه کچه توجیه کړي او له همدې امله وسله والو مخالفینو ته د پولیسو د څو چنده مرګ ژوبلې اوښتلو خبره کوي.

د کورنیو چارو وزیر د معلوماتو له مخې، د سږني کال له لومړیو شپږو میاشتو کې د 955 تنه ولسي وګړو د وژل کېدو او 2394 نورو د ټپیانېدو خبر ورکړل شوی. خو دا شمېره هم د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې تر حقیقې کچې ډېره کمه ده؛ ځکه د یوناما (په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دفتر) په وروستي راپور کې د ملکیانو د مرګ ژوبلې په تړاو ویل شوي وو، چې د 2014 کال په لومړیو شپږو میاشتو کې 1560 تنه ولسي وګړي وژل شوي او 3280 تنه نور ټپیان شوي دي.

## د بهرنیو ځواکونو عملیات

که څه هم افغان امنیتي چارواکي ادعا کوي، چې سږ کال په یوازې سر جنګېدلي یو او له بهرنیو ځواکونو یې مرسته نه ده غوښتې، چې له همدې امله یې د مرګ ژوبلې کچه هم لوړه شوې ده؛ خو په حقیقت کې سږ کال هم ډېرې سیمې د بهرنیو ځواکونو د هوایي ځواک په مرسته ساتل شوې وې او کله چې په هغو سیمو کې د بهرنیو ځواکونو هوایي مرسته بنده شوې، سیمه هم د افغان ځواکونو له کنټروله وتلې ده.

که له بهرنیو ځواکونو مرسته نه وي غوښتل شوې، بیا نو ولې نږدې هره ورځ د بهرنیو ځواکونو په بمبارۍ کې لسګونه افغانان وژل کېږي؟ په داسې حال کې چې د ټولو سیمو امنیتي او عملیاتي واک هم افغانانو ته سپارل شوی دی.

په همدې ورځو کې په کونړ کې د بهرنیو ځواکونو په بمبارۍ کې، چې د افغان ځواکونو د مرستې په پلمه شوې وه، 14 تنه مېرمنې او ماشومان ووژل شول او 13 نور ټپیان شول، چې د بښنې نړیوال سازمان او په کابل کې د ملګرو ملتونو د سازمان استازي یان کوبیش هم دا پېښه وغندله.

له لویه سره د بهرنیو ځواکونو د بې پیلوټه الوتکو په بریدونو کې، یا قصداً او یا هم د ناسمو استخباراتي راپورونو له امله عامو افغانانو ته پراخه مرګ ژوبله اوړي؛ خو ظاهراً داسې ښودل کېږي چې ګویا بې پیلوټه الوتکې یوازې وسله وال مخالفین په نښه کوي.

د بې پیلوټه الوتکو په بریدونو کې د اوښتي مرګ ژوبلې ځیني وروستی پېښې، په نورستان ولایت کې بریدونه او له امله یې د 41 تنو ملکیانو د وژل کېدو، په شینډنډ کې د څلورو مېرمنو او ماشومانو وژل کېدل، په لوګر کې د ماشومانو په ګډون د څلورو تنو وژل کېدل، د کندهار په خاکرېز ولسوالی کې د دریو تنو وژل کېدل او همدارنګه په پروان ولایت کې د پولیسو پر پوسته د برید په پایله کې، د دریو پولیسو د وژل کېدو پېښې یادولی شو.

په تېرو کلونو کې دغسې بریدونو د افغان سرتېرو غچ اخېستونکي بریدونه هم له ځان سره درلودل، چې وروستی پېښه یې هم څو ورځې مخکې، په هرات کې د یوه افغان سرتېري له خوا په مخامخ ډزو کې دریو امریکایي سرتېرو ته د مرګ ژوبلې اوښتو پېښه ده، چې د برید پر مهال د افغان سرتېري له وژل کېدوسره د نورو امریکایي پوځیانو د وژل کېدو مخنیوی وشو.

دغه راز پر بهرنیو ځواکونو د کابل په ترټولو باامنه سیمه کې ځانوژونکي برید او 8 بهرنیو پوځیانو ته د مرګ ژوبلې اوښتو پېښې وښوده، چې که څه هم د ټول هېواد په کچه د دغو ځواکونو تګ راتګ کم شوی؛ خو لاهم د وسله والو مخالفینو په بریدونو کې درنه مرګ ژوبله وراوړي او په بشپړ ډول د جګړې له افغاني کولو سره سره، د خپلو ځواکونو د مرګ ژوبلې پر پای ته رسولو هم نه دي توانېدلي.

## د افغان ځواکونو د تجهیز ژمنې

کله چې د امریکا ولسمشر "د امریکا لپاره" د افغانستان د جګړې د پای ته رسولو پرېکړه وکړه؛ نو په پېنځو پړاوونو کې افغانانو ته د ټول افغانستان د امنیتي چارو د مسؤولیت سپارلو هوکړه وشوه.

د امنیتي مسؤلیتونو د لېږد پروسې لومړنی پړاو د 2008 کال په اګسټ میاشت کې، افغان ځواکونو ته د کابل ښار د امنیتي چارو د واک له سپارلو سره بشپړ شو. وروسته په 2010 کال کې ناټو وویل، چې تر 2014 کال پورې د دې پروسې د پای ته رسولو هوډ لري.

د ناټو دا وړاندیز، په شیکاګو کې د 2012 کال د مې میاشتې په غونډه کې، د دغه سازمان د غړو له خوا تایید شو او له پلان سره سم د ټول افغانستان د امنیتي چارو واک افغانانو ته وسپارل شو؛ خو د امنیتي واکونو د سپارلو ترڅنګ چې کومې ژمنې له افغان ځواکونو سره شوې وې، تر نن ورځې پورې نه دي عملي شوې.

امریکا او ناټو ژمنه کړې وه، چې د امنیتي واک د لېږد په بهیر کې به افغان ځواکونه روزي او پرمختللې وسلې به یې په واک کې ورکوي؛ خو د تمې خلاف افغان ځواکونه دا مهال د خورا ټیټې کچې وسلو او تجهیزاتو ته هم لاسرسی نه لري او له کومو سیمو

چې بهرني ځواکونه وتل، خپل تاسيسات او هغه پوځي توکي يې چې د لېږد وړ نه وو، په بشپړ ډول ورانول، مګر د افغان ځواکونو په واک کې يې ورنه کړل.

د افغان ځواکونو د پياوړتيا لپاره په هر نړيوال کنفرانس کې ژمنې کېږي، چې وروستى هغه يې هم د لندن کنفرانس و؛ مګر دا مرستې يا خو د مرستو په څېر نه دي، يا عملي جامه نه اغوندي او يا هم د افغان دولت د داخلي ستونزو له کبله، پر ځاى نه دي لګول شوې او د نړيوالو ميلياردونه ډالره مرستې او نور فرصتونه له لاسه وتلي دي.

خو هاخوا بيا د دولت د وسله والو مخالفينو بريدونه او فعاليت ورځ تر بلې پراخېږي او افغان ځواکونه اوس هم په ډېرى لرې پرتو سيمو کې کلابند شوي او د هوا له لارې يې اکمالات کېږي؛ خو امنيتي چارواکي بيا له دې سره سره هم ملت ته د خپل بشپړ ځواک ډاډ ورکوي.

که له يوې خوا امنيتي چارواکي د وسله والو طالبانو د زرګونو بريدونو د شنډولو خبره کوي؛ خو دا هم مني چې ځينې ولسوالۍ له څو کلونو راهيسې د طالبانو په ولکه کې دي. په سږ کال کې هم د وسله والو طالبانو د بريدونو له پراخېدو سره دوو نورو ولسواليو هم سقوط کړى او څو نورې هم د سقوط له خطر سره مخ دي.

که څه هم افغان چارواکي وايي، چې افغان ځواکونو سږ کال په يوازې سر د دولت له وسله والو مخالفينو سره جګړه کړې او له بهرنيو ځواکونو يې مرسته نه ده غوښتې؛ خو په حقيقت کې سږ کال هم له افغان ځواکونو سره د بهرنيو ځواکونو مرسته مله وه. نو دا چې د 2014 کال تر پايه به له افغانستان څخه د بهرنيو ځواکونو د زياتې برخې وتلو سره د هغوى پوځي حضور پاى ته رسېږي، که له دې وروسته د بهرنيو ځواکونو مرسته هم له افغان ځواکونو سره نه وي او د اوس په څېر کافي تجهيزات هم ونه لري، د افغان ځواکونو د تلفاتو کچه به هم خورا لوړه شي او ښايي ځينې سيمې هم د دولت د وسله والو مخالفينو ولکې ته ورشي. پاى

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)